


(ناول)

# دوه خويندي

پښتو ناولونه

بسم الله الرحمن الرحیم

سترګې مې را رڼې کړې، د حجرې تر مخ په شنه چمن کې ويده شوی وم. د آسمان مخ رنګا رنګ رڼاګانو نيولی ؤ. اوچت په ځای کې را کېناستم، په کوڅو کې د ماشومانو چيغې ختې، د عيد مبارک،عيد مبارک سندرې غږېدې. د لمانځه سخت پايينده وم، په قضا شوې لمونځ مې زړه شين شو.

مورمې په زړه کې جګه ودرېده، دا دريم اختر ؤ چې بې موره په بل وطن کې را باندې تېرېدل.

له کلونو ډک زړه مې نور د زغم زور نه درلود، سر مې په ځنګنو کېښود، بې اختياره مې وژړل.

په فکرونو کې ډوب تللی وم

ناڅاپه مې يو ځوړ تر غوږه شو، لکه څوک چې زما خواته را روان وي، خپلې ژړا ته مې پام شو، دا هڅه مې کوله چې څنګه خپلې اوښکې پټې کړم.

يو سوکه نرم ټک شو

په ځنګنو اينښی سر رانه بې اختيار ور پورته شو

د سرای په وره دروازه کې نسرين ښته ګوته په موټ کې کلکه نيولې ولاړه وه.

سترګې يې زما سترګو ته ونيوې

په حالت مې وپوهېده

مسکی شوه

تا دې خپل کالي له درزي راوړې چې دلته ناست يې.

وېښتانو ته دې وګوره؟

ورشه جوړ يې کړه صبا اختر دی، له خلګو شرم دی.

ليږ را په خود کې شوم

څه مې ونه ويل

نسرين را روانه شوه

راغله غلې مې تر څنګ کېناسته

ايمان جانه؟

مخ مې ور واړول

خواږه يې راته وکتل

ته لېونی يې؟

ددې کور او د وطن د کور څه فرق دی چې خپه يې؟

دلته ټول تاته تر ورور ډېره مينه درکوي، دا اوس ستا انديښنه راسره پيدا شوه، راغلم چې دلته يې اوکه وتلی يې.

څه مې ونه ويل.

په چپ لاس کې نيولی کارت يې راته ونيوی

ها دا عيد کارت واخله

په ښښتو يې راته وليکه، نورو ملګرو ته مې عيد کارتونه په اوردو وليکل، دا کارت مې تاته وساتل.

کارت مې را واخيست

دا کارت ولې په پښتو وليکم، او څه پکې وليکم

نسرين سوکه وويل

په پښتو خو تر ما ته ښه پوهيژې

د اختر مبارکي ورته وليکه او څو شه، شه شعرونه د اختر لپاره.

ومې ويل

ستا ولې پښتو نه ده زده؟

وې خندل

ولې ته نه ګورې چې زموږ باباګان دلته راغلي ؤ، موږ افغانستان په ګرد عمر ليدلی نه دی، نو پشتو ليکل به مو له چا زده کول.

په پښتو ژبه مې په کارت کې د اختر مبارکي وليکله، دوه د اختر لپاره بيتونه مې ورته وليکل.

کارت مي نسرين ته ونيو
ومي پوښتل
دا څوک دي چي په پښتو کارت ورته ليږې؟
وې ويل
دا دوه خويندې له افغانستانه دلته را واده شوي، د کيمپ دننه يې کور دی، يو کال يې ما په کورکي ماشومانو ته درس ويل، خو دوئ بېچاره ګاني اولادونه نه لري، د دواړو بني ډير اولادونه لري، هو سا ژوند لري، خو دوئ دواړه د کور خدمت او سخت وخت تېروي.
حيران شوم
دواړه بني لري.؟
هو دوئ دواړه بني لري
دوئ ډيرې ښي ښځي دي، زما ورسره کلکه ملګرتيا شوه، ماته ډيرې خوشاله وي، د وطن مينه را باندې ماتوي.
نسرين له خپل ځای څخه ولاړه شوه
ايمانه؟
ورته ومي کتل
لاړ شه کالي دې له درزي را واخله
زه ځم د کوڅې نجوني راغلي په لاسونو يې ورته چاپوته اچوم.
نسرين له سرايه ووته.
نسرين يوه هوښياره او ځيرکه ښځه وه، ډير وخت يې درس ته ورکړی ؤ، خدای شته په يوه او بل بې مطلب ګران ؤ. د نسرين په څهره کې د افغانستان رنګ ؤ، کله ناکله به يې ازماينتي عملياتونه کول، د چونګښې نس به يې ور عمليات کول او بيرته يې ورته ګنډل، وروسته له عمليات څخه به يې د چونګښې داسې ساتنه کوله لکه په روغتون کې د بيستر شوي انسان.
له څه وخت وروسته به چونګښه بيرته په خپلو پښو روانه شوه.
هر وخت چې به يې کوم عمليات کول زه به يې خامخا خپلې ځانګړې درسي او کاري ګوټې ته ور بللم.

څو شپې وروسته په غټه دروازه احمد له ګنو ځوانانو سره را ننوتل
سلام يې واچول
زه را ولاړ شوم
احمد وويل
کېنه لېو نه کوې.
سر مي ورته وښورول
د وړې دروازې په لور روان شوم
احمد پسې را غږ کړ
کورکې د سړو اوبو ورته ووايه
زه مخامخ د کور له دروازې را ووتم.
شپه تيره شوه، سهار مي د زړه په زور کالی بدل کړل.
د نيږدې تربرونو په کورکې کټ مټ داسې چلند راسره کېده لکه له نازولې ماشوم سره. هغه د چا خبره تر سيورې او لمره يې نه کولم.
د اختر په دريمه ورځ زه خپل کار ته ولاړم، کار ځای مي د دوئ له کوره په سل کيلو ميټرۍ کې ؤ.
له ډيرو مزدوريو او سختو ورځو را وروسته مي څو غيرتي او ښه پښتانه ملګري پيدا کړي ؤ، په بده ورځ مي ښه ننګه کوله، دوئ پراپرټي، د ځمکو، کورونو د خرڅلاو، کرايي کورونو کار او بارکول، زه ورسر د منشي په توګه بوخت وم.
ملګرو مي له سياسي پارټيو سره، له مخورو مشرانو سره ښې اړيکې درلودې، د قام په ښه او بده يې ځان شريک ور بلل.
تل به يې د افغان مسافرو ملاتړ کول، د ستونزو په وخت کې به يې لاس ورکول.
داځل مي په کار ځای کې څلور اونۍ سر په سر ووتې چې د کاکاخيلو د کور په لورې نه وم ورغلی.
د يکشنبې په ماښام مي زړه وغوښتل چې يوځل چکر ور ولګوم.
د تک پلان مي جوړول چې تلفون ته مي زنګ راغی.

ځواب مي کړ
بلې سلام عليکم
وعليکم السلام
د نسرين غږ مي واورېدل
ايمانه؟
خبره مي ور غبرګه کړه
څه حال دی نسرين څنګه يې؟
نسرين له جوړ پخير وروسته راته وويل
ولې نه راځې، خدای ج مکړه له موږ خو به خپه شوی نه يې؟
ورته ومي خندل
نه ولې به خپه کيږم، تاسو ټولو زما ډير قدر کړی، خپل کور مي دی، زه ډير اارام يم.
نسرين خپلې خبرې را لنډې کړې
ښه نو نن راځې کنه؟
ورته ومي ويل
همدا اوس مي پلان درلود چې درشم
نسرين ليږ په بيړه وويل
که راشي ښه ده، زما ډير اړين کار دی درسره.
کالي مي بدل کړل او په موټر سايکل مي پښه واړوله.
له ډير ارام سفره وروسته ورسېدم.
د چوک په سر د يوه چوهدري له دود پټي چای څخه تېرېدل بيخي خوند نه کول.
موټر سايکل مي ودرول، د هوټل مخې ته په ايښو چوکيو په يوه کښناستم او يو پچيس، څلوېښتو والا دودپټي مي را وغوښته.
شيبه وروسته احمد او نور ملګري يې هم راغلل، له ليږ مجلس وروسته زه او احمد د کور په لور روان شوه.
د هر ځل په ور تلو سره د کور د ماشومانو مخې ته منډې را وهل او تر ما غېږ چاپيرول دا ځل هم داسي ؤ.
د وطن کيسو ته مي واړه او زاړه په مينه غوږ ؤ، ټولو تل غوښتل چي له ما څخه يې واوري.
په خندا او خوښۍ مو د شپې ډوډۍ وخوړه.
غټه کورنۍ وه، کور له ماشومانو، ځوانانو، پېغلو ډک ؤ.
ښه علمي فضا جوړه وه.
له مجلس وروسته مي بيا د تل په څېر ځان د حجرې تر مخ شنه چمني ته ورسول او کښناستم.
څوک ويده شول او چا مطالعه کوله.
شيبه وروسته احمد يو د اوبو غټ بوتل او يوه ګيلاس سره راغی او زما تر څنګ کښناست، بوتل يې په ګيلاس ور کوږ کړ، په يوه سا يې په غاړه واړول.
غاړې يې تازه کړې
ښا دې اکا زو نورې څه کيسې دې.
مال کيسې خو به ته راته کوې، ماخو ټولې درته کړې.
حيران يې راته وکتل
اښه يو بله به درته وکړم
اندېښنه مي شوه
مال وايه
شکمن شو
ژر يې را غبرګه کړه
ولې نسرين تاته څه نه دې ويلي؟
حيران شوم
مال نه
دې خبرې سره نسرين په وړه دروازه را ننوته، راغله مخامخ موږ ته کښناسته.

احمد شونډې ورته بوڅې کړې
تا ایمان ته مسئله نه ده ویلې؟
نسرین نرمې خبرې پیل کړې
نه
ښه مې وبلله چې داسې یوځای کېنو او خبرې وکړو.
زما اندېښنه نوره ډېره شوه
ژر مې وویل
څه کیسه ده؟
نسرین وخندل
ایمان داسې ژر وارخطا کیږي
احمد وویل
خود به وارخطا کیږي، کیسه وکړه کنې زه یې کوم.
نسرین ماته وکتل
ستا هغه عید کارت په یاد دی؟
ژر مې وویل
هو هغه په اختر کې
بیایې وویل
هو هغه
هغه دوې خویندې درته یادوم، دا ډېره غټه کیسه لري، چې یوازې زه او احمد پرې خبر یو، ښه مو وبلله چې له تاسره یې هم شریکه کړو
دا دوه خویندې زما او احمد ځکه شناخته دي چې ما یې په کورکې له یوه رسمي ادرس ماشومانو ته درس ویل، او احمد یې د بلډینګ لاندې د مناري دوکان لري.
په مورې دوئ ډېر باور لري.
دا یو غټ فوځې کېمپ دی، یوازې د دولت د مشرانو، جنرالانو کورونه پکې دي.
دا دوه ښځې د دو ورونو ښځې دي، چې دا دواړه د دولت غټ خلک دي. یو یې جنرال دی او بل هغه یې افسر دی.
پوځیانو ته درس ورکوي.
دا دواړه خویندې په دوئ خرڅې شوې دي، په جبر یې ځان ته کېنولې. د کور ماشومانو خدمت پرې کوي. ناوړه چلند ورسره کوي.
هغه ورځ چې یې ستا د پښتو لیک اوستی ؤ، پوښتنه یې وکړه چې دا څوک او له کوم ځای څخه راغلی.
ما دي په اړه مالومات ورکړل
دوئ ستا لیدو یاهم اړیکې ته ډېرې لېوالې شوې.
په سترګو مې توره شپه شوه
سر را باندې وګرځېد
ټولې بې وسه، بې کسه پښتنې پیغلې مې په ذهن کې تاو را تاو شوې.
هیڅ مې تر خوله نه راوتل
نسرین په اوښلنو سترګو بیا دوام ورکړ.
دا دوې خویندې د افغانستان د کابل دي، اته کاله کیږي له خپل کور، مور پلار څخه حال نه لري.
په دا دومره موده کې اولاد نه لري.
زمورډ ډېر زړه پرې بدیږي، هر وخت چې په پښتو خبرې کوي مورډ فکر کو چې د کور ښځې مو دلته چا بندی کړې.
که چیرته پرې وپوهیږي چې مورډ ته یې حال ویلې وژني یې.
نو اوس مورډ داسې سوچ کړی چې د احمد په دوکان کې ته یوځل ورسره وګورې.
مورډ به لار درته جوړه کړو، مورډ دا اجازه لرو چې خپل دوست، میلمه د چکر لپاره راسره بوزو.
ژر مې وویل
زه ورسره ګورم
حتمن ورسره ګورم

احمد خبره را غبرګه کړه
ایمانه؟
دا څه کوچنی کار نه دی، سهي ده چي هغوئ په موږ بروسه لري، او زموږ دوکان ته تګ راتګ ازاد کوي، خو که چیرته زموږ په کوم حرکت وپوهیږي نو موږ او زموږ بزنیس ټول په خطر کي دی.
په ډک ستوني مي ورته وویل
تاسو پلان جوړ کړئ زه هغسي کوم.
نسرین وویل
موږ خبره کړې، صبا مازیګر به ځو، ځکه هلته کار سیستم، بازار وروسته له ماښام فعاله وي.
د هو لپاره مي سر ورته وښورول
تر ناوخته یي په اړه وغږېدو.
وروسته دوئ ولاړل
زه تر سهاره ویښ وم
سترګي چي به مي پټي کړې دوه خړې پړې، بې وسه پېښتني به مي سترګو ته ودرېدې او د مرستي چیغي به یي راته وهلي.
غرمه ناوخته له خوب څخه را پورته شوم.
مازیګر ناوخته زه او احمد په موټر سایکل سپاره شوه.
د کېمپ لومړۍ دروازې ته ورسیدو، کلک امنیتی تدابیر ؤ.
په لومړي چیک پاینټ ودریدو، ولاړ پوځي ته احمد سلام واچول
او کیا حال هي احمد بایي ټیکهو.
یه کون هي
احمد ور غبرګ کړه
میرا دوست هي
تک تور پوځي مسک شو
اچا
چای پاني خدمت
احمد حرکت وکړ
په وروستی دروازه کې مخ پټو عسکرو د احمد په اجازه زما په وجود یوه پلاستکي آله تېره کړه.
لیږ اخوا غټي، غټي ودانی ولاړې وې، ښایسته دوکانونه، هوټلونه، شنه چمني، دنګي ونې دا هغه څه ؤ چي ما بل ځای کي کله نه ؤ لیدلي.
خوا پاکي ماشومان، ښایسته لوڅ سرې ښځي چي ویښتان یي په ډول، ډول رنګونو رنګولي ؤ ګرځېدې.
د یوې ستري ودانی لاندې د یوه غټ دوکان تر مخ چي له شیشو جوړ ؤ ودرېدو.
احمد د دوکان دروازه خلاصه کړه، ډول، ډول رڼاګاني یي ولګولي.
دوکان ډیر ښکلی او په زړه پورې ؤ. د میرمنو د اړتیا وړ توکي پکي ؤ. جامې، عطر، د سینګار اړوند شیان، غاړکې، ګوتمی،لنډه داچې هرڅه او هر رنګه څېزونه پکي ؤ.
یخه هوا پکي چالانه شوه، ماته یي یو پیپسي بوتل رواړ.
میرمني وتې ننوتې.
غټي سوداوې یي کړې، له هرې یوې سره د پیسو پربماني وه.
ما د دوکان له هغه بل سره د دوئ ننداره کوله، یوې نیمي به سلام دعا هم راسره کول، اخلاق نزاکتونه ښه ؤ.
زما زړه، فکر ټول د دو افغانو خویندو په خوا ؤ، هره شېبه مي دا فکر کول چي اوس به راځي.
هره ښځه چي به دوکان ته راغله زما به پرې شک ؤ چي شاید همدا وي.

شېبه وروسته مي احمد خواته راغی.
سوکه یي راته وویل
را ولاړ شه
د دوکان په وروستی برخه چي کوم غلی ځای احمد د ځان استراحت لپاره جوړ کړی ؤ هلته یي کېنولم.

بیرته روان شو په خپل ځای ودرید.
یوه ښځه چي ماته یې شا وه په ډیر سوکه غږ ورسره په خبرو شو.
ښځې مخ را واړول او زما خواته غلي را روانه شوه.
احمد سوکه وویل
ایمانه غږ مو لوړ نشي.
ښځه زړه نا زړه په نیولو قدمونو راغله زما مخې ته ودریده، واخطایي په ځیر ځیر راته وکتل او بیا کېناسته.
له رنګ غنمرنګې وه، څېرې یې د وران او لوټ شوي کابل کیسي کولې، سترګې یې له اوښکو ډنډې شوې.
یو غږ یې تر خوله راووت
وروره
ما پورته ورته وکتل
سر یې ځنګلي ته ور ټیټ کړ
ژړا یې په ستوني کې غوټه شوه
ښه شېبه غلې وه
بیایې سترګې را پورته کړې
له غریوه ډک یې وویل
نسرین به کیسه درته کړې وي؟
سوکه مې وویل
هو نسرین کیسه راته کړې.
ښځې یوې او بلې خواته سترګې وغړولې، بیا ماته ځیره شوه.
وروره زه دلته ډیره نه شم کېناستی، اته کاله مخکې کابل د جګړو وران کړ، د هرې کوڅې د انسانانو د غوښو بوئ تلل، کلې کورونه په کنډوالو بدل شول، لوږه او فقر دونرع شو چې زما د پلار په ګډون خلګ له خپلو اولادونو پېشمانه شول، په خاصه بیا لور د هر پلار په غاړه کې یو اضافي ځنځیر وه، یوه نامرده انسان له کابل څخه زه او زما خور زموږ له پلار څخه د ډیر غربت له امله د ګندنې په بیه واخیستو او بیایې دلته را وستلو، کله چې را ورسېدو موږ وپوهېدو چې سړي دوکه کړې.
موږ د غریب او بې وسه سړي لورانې ۀ، ورونه مې واړه ۀ، د کابل په نجونو چور ګډ ۀ، هر سړي په نه بیه ځان ترینه خلاصول، چې په دې کې زموږ پلار هم د یوه دوکه بازه ښکار شوه، د څو پیسو په بدل کې یې زه ځان او زما خور یې د ورور لپاره په نکاح کړه.
دروغ یې وویل، دوکه یې راکړه، چې زموږ یو کور په پاکستان کې دی، ژمی به ځو او دوبی به راځو.
غربت او لوږه وه، بې واده او بې مراسیمو یې په لاس ورکړو.
وروسته له هغه یې دلته دغو ځناورو ته وسپارلو چې دا زما ورونه دي، زه یې مشر او زما خور یې کشر ورور ته کېنوله.
اته کاله کیږي چې له خپل مور پلار کورنۍ څخه د مړي او ژوندي حال نه لرو.
کیسي به بیا وکړو، اوس یو افغانیت راسره وپاله، او زما په هډو داسي را وربېدلې چې حتمن زموږ ملتیا کوی.
سوکه مې ورته وویل
زه ستاسو هر ډول مرستې ته تیار یم
له ډیرې خوشالۍ مسکۍ شوه
ژر یې وویل
په کابل کې بلد یې؟
سر مي ورته وښوروول
بیایې وویل
کابل ته چې ځنګه ورسیږې کمپنۍ ورته وایی، له هغه وروسته یوه لار د پغمان خواته تللې، د خواجه مسافر په نامه یو کلی دی، هلته زموږ یو کوچنۍ نیم ړنګ کور ۀ، پلار مي ګلاب نومیږي په ګلي مشهور دی، ټول یې پیژني.
که چیرته دې نه کړل پیدا بیا د شمتلي پوښتنه وکړه د مور لخوا باباخېل مي هلته اوسیږي، بابا مي سیدعالم نومیږي هرڅوک یې پیژني.
یوازې دومره وکړه چې زموږ د ژوند حال ورته ورسوه.
له هرې خبرې او سلکۍ سره یې شکر ایستل او دا خبره یې کوله چې اخ تر پښتون ورور مي جار کړې.

غوټي کولمې مې ورته پرې کېدې، په سترګو مې توره شپه راتله، شېبه په شېبه مې په ځان حاکمیت له لاس ورکول.
سترګي مې ور پورته وکړې
ورته ومې ویل
خورې په پاک خدای ج قسم کوم چي دا کار به زه حتمي کوم،او تر هغو به کرار نه کېنم چي تر څومې ستا کورنۍ نه وې پیدا کړې.
د ښځي ژړا او خندا سره ګډه شوه، ټول وجود یې لړزېدل.
احمد سوکه زموږ خواته راغی
ایمانه که خبرې مو خلاصي شوې وي دا خاله به لاړه شي.
ښځي مخ ور واړول
بیرته یې له مایوسي او له اوښکو ډکي سترګي راته ونیوې
نه پوهېږم چي مابه څنګه ورته کتلي وي، خو په ولاړېدو کې یې وویل
زما پښتونه وروره ستا سترګي ماته دا وایي چي زموږ بندیانو غږ به رسوې.
ښځه له یو عالم درد سره له دوکان څخه ووته.
احمد ماته وکتل
زما اوښکي نه تم کېدې
را ټیټ شو، په اوږه یې لاس را کېښود
ایمانه ته غم مکوه، زه درسره یم او دا کار به کو، ته دې حالت سم کړه، دا ځای ددې خبرو او ژړا نه دی، را ولاړ شه.
په چوکۍ کېناستم، اوښکې مې په وچ زور تم کړې.
هره شېبه لکه کال داسي اوږدېده.
د شپې دولس بجي شوې.
احمد ته مې وویل
ځو نه؟
احمد وار له واره د دوکان په را ټولولو پیل وکړ.
یوه بجه وه چي بېرته کور ته را ورسېدو.
د تل په څېر بیا د حجرې د چمني تر مخ کېناستو.
دوه کابلی نجونې مې په زړه کې را شنې شوې، یوه شېبه یې ارام ته نه پرېښودم.
احمد ته مې وویل
زه درنه لاړم
احمد مې په حالت وپوهېدل چي ګواکي په کورکې یې ټول په څېره پوهیږي.
خبرې یې اوږدې نه کړې
سوکه یې وویل
ورشه
موټر سایکل مې را وایستل او روان شوم.
ټوله لار په ښې او چپ لاس نه پوهېدم.
خپل ځای ته لا نه وم رسیدلی چي موټر سایکل مې د یوه هوټل مخې ته ودرول او ملګرې جعفر ته مې زنګ ووهل.
ځواب راکړ
وار له مخې مې ورته وویل
جعفره چېرته یې
جعفر مې په حال وپوهېدل
ژر یې را غبرګه کړه
په ډبل روډ په کرایي هوټل ناست یو راځه.
ژر ور روان شوم
څه وخت وروسته ور ورسېدم.
هوټل مخې په ناستو چوکیو د ملګرو په منځ کې د جعفر سترګي په ما ولګېدې
ژر له ځایه را ولاړ شو او مخې ته راغی.

غېږ يې راکړه.
خيرت دی ولې داسې په بد حال يې
ستونی مې را ډک شو.
څه شوي ايمانه؟
له چاسره دې جنګ کړی؟
نوره څه کيسه ده؟
د نه په بڼه مې سر ورته وښوروَل
جعفر زما په غاړه کې لاس را واچول او تر څنګ تشو چوکيو ته يې روان کړم.
کېناستو
د جعفر انديښنه شوه
کيسه مې ور پيل کړه
سترګې وار په وار تندې ته ختې او غصه يې ډېرېدله.
ټوله کيسه مې ورته وکړه
مخې ته پروت پلاستکي مېز يې په سوک کلک ووهل او سر يې کېښود
ناستو ملګرو ټولو را وکتل.
وروسته را ولاړ شو د ملګرو خواته ورغی او بيرته ژر ترينه راغی.
په موټر سايکل يې پښه واړوله
په خوشکه يې وويل
سپور شه
ژر پسې کېناستم
نيم سات وروسته يې د خپل کور تر مخ بريک ونيو او حجرې ته ننوتو.
سات ناوخته ؤ
جعفر وويل
اوس ويده شه سهار به ګپه کو
شپه تېره شوه، د ورځې په دولس بجې مې سترګې رڼې شوې، جعفر په ځای کې نه ؤ، بيرته مې سترګې سره ورغلې وې. يو وخت د تلفون په زنګ را ويښ شوم، ومې کتل جعفر ؤ.

ژر را کيناستم، تلفون مې ځواب کړ.

ته لا ويده يې؟

راځه زوی مړې په انتظار دې مړ کړم.

له حجرې را ووتم او سيده د دفتر په لورې روان شوم.

دفتر له ګڼو ځوانانو ډک ؤ، څه وخت وروسته ووتل.

جفعر را ياده کړه

ياره ايمانه د خولې خوند دې په بېګانی کيسه را خراب کړی.

دا زموږ وطن به کله له بدبختيو خلاصيږي؟

که ووايو چې ننګيالي يو، خو له غيرت سره، سره مو خور او مور هم بې پته شوې.

ښه یې زړه تش کړ.

وروسته یې راته وویل

ښه یاره اوس څه سوچ کوې؟

څه دې خیال دی، څه کول پکار دي.

له لیږ فکر وروسته مې ورته وویل

ځم وطن ته کورنی یې پیدا کوم.

ترخه مسکا یې وکړه

ښه نو بیا.

بیایې د خپلو ورکو لورانو له احوال څخه خبروم.

خوشکه ورغله

ته لېونی یې ؟

ایا د هغې د کورنۍ همدا ورک حالت ښه نه دی؟

ایا هغه کورنۍ به دومره زور او زر ولري چې له ظالمو جابرو، جنرالانو خپلې بندۍ لورانې وژغوې او یایې هم غچ واخلي.

د کورنۍ پیدا کول او خبرول یې هغوئ ته یو بل عذاب دی. اوس خو به حتمن څه ناڅه تمه لري چې یوه ورځ به راشي. که چیرته هغوئ د خپلو لورانو له داسې یوه حالت څخه خبر شي تمه به یې پرې شي او په یوه بل غم به ککړ شي.

له ډېر فکر وروسته مې مخ ور واړول.

نو چاره څه ده؟

په لاس کې نیولی سګرېټ یې په ګېلاس کې ډوب کړ

دا نجونې باید وتښتول شي.

پښې مې مړې شوې، د زړه دربا مې ډېره شوه.

ژر مې ورته وویل

دا څنګه امکان لري؟

مسک شو

داسې امکان لري لکه دوئ چې څنګه دا کار کړی دی.

اوس خو دا چاره داسې را له غاړې ده, لکه د کور ښځې چې مو پنجابې په کور کې په زور رانه کېنولې وي.

د جعفر دې خبرو نور غیرت ته وترلم.

له ځان سره مې وویل، دوه ورځې ژوند دی د دوئ تر سر دې ځار وي، که ونیول شوم تر دوئ زه هم نه یم ښه.

ومې ویل

جعفره دا کار به څنګه وکړو؟

جعفر په ډاډه زړه وویل

ډیر داسې کارونه مو کړي، په داسې کړنو مرګ او ژوند دواړه افتخار دی، ته دومره وکړه چې له دې ښځو، نجونو سره بیا وګورې، نور کار زه درته جوړوم.

د احمد او نسرین تر بیا لیدو ډیرې شپې ووتې.

زما او د جعفر کلکې مشورې او پلانونه روان ؤ.

یو مازیګر بیا روان شوم، شپه مې تر احمده ورسوله.

د شپې ناوخته د حجرې تر مخ په شنه چمن کې مې احمد ته بیا دوه خویندې ور یادې کړې.

د احمد ارادې هغسې نه وې لکه څنګه چې وې.

د شونډو په سرو یې وویل

یاره دا کیسه به ایله کړو، زموږ او ستاسو وس کار نه کوي، دا ډیر خطرناک خلګ دي، که را باندې وپوهېدل کار مو را خرابوي.

د احمد د خبرو په اورېدو لکه ملایکې چې مې په خوله کې دا خبره را واچوي

ژر مې ور غبرګه کړه

هو په درد نه خوري.

څه وخت وروسته احمد ووتل، ما سر کېښود، په فکرونو کې ولاړم.

له ځان سره مې وویل، ښه شوه چې ټینګار مې ونکړ، کنې کیسه خرابېده.

شپه تېره شوه

سهار مې پوښتنې ته نسرین راغله، له جوړ پخیر وروسته مې کیسه ور یاده کړه، چې ګواکې احمد خو په شا شوې، ته څه وایې؟

نسرین د تل په څېر په خپله خبره ولاړه وه.

سوکه یې راته وویل

ګوره ایمانه، د یوڅه وخت لپاره به دا کیسه پرېږدو، د احمد زړه نه دی، ویره ورته پیدا شوې، څو شپې وروسته به بیا خبرې پرې وکړو چې څه کول پکار دي.

ومې ویل سمه ده، خو ګوره نسرین زه په تا دا باور لرم چې دا کیسه څنګه پای ته رسولی شې. ما یو فکر کړی غوښتل مې نظر دې واخلم.

نسرین وویل

زه درته غوږ یم

ما داسې فکر کړی چې هیڅ اړتیا نشته چې کورنی یې خبره کړو، هغوئ به څه وکړي، دا خبر د هغوئ کورنی لپاره یو بل عذاب دی.

د نسرین تندی ګونځې شو

نو څه کول پکار دي

ومې ویل

دا باید وتښتول شي او له خپلې کورنی سره یوځای شي. نور توکل په خدای ج، زه ډاډه یم چې زموږ مرسته به کړي، ځکه چې هغه هرڅه ځاری.

نسرین د ډیر وخت لپاره په فکر کې ولاړه

له اوږدې چوپتیا وروسته مې بیا وویل

نو څنګه دې خوښه ده

نسرین له فکرونو را ووته

ایمانه ډیره سخته ده، دا کار به کله امکان ولري، ته ځان په ډیر غټ خطر کې اچوې.

ځان مې کلک ونیو

نه هیڅ خطر نه دی، ته بېغمه اوسه، یوازې دومره وکړه چې له دوئ سره خبرې وکړه.

نسرین خیر دی، زه ارام نشم کېناستی، دا درد به ما مړ کړي، دا دوه خویندې زه نشم هیروی، فکر کوم لکه د کور ښځې چې مې وي.

نسرين مي په حالت وپوهېده

سوکه يې وويل

مخکې مې د دوئ لپاره يو څه کول، خو اوس ستا لپاره هم يو کار کوم.

مننه مي ور څخه وکړه.

له خپل ځايه را ولاړ شوم د تګ اجازه مي ورنه وغوښته.

د تلو په وخت کې مي ورته وويل

زه ستا د احوال په تمه يم.
له کوره را ووتم او د کار ځاى په لورې روان شوم.
دفتر ته ورسېدم، جعفر د لاهور اوږده سفر ته د چکر تابيا نيولې وه. ډيرو خبرو ته يې نه يم پرې ايښی، د ځان او جامو د بندو بست يې راته وويل.
د ماښام له آزان سره سم مو د ځينو ملګرو په ملتيا د لاهور په لورې سفر پيل کړ.
سفر مو تر پينځلسو شپو وغځېد، چيرته چې به شين ځاى، د اوبو غاړه وه زموږ پرې ناسته وه.
خوندورې مېلې مو وکړې، د خوښې وړ توکې مو واخيستل، خو بيا مي هم دوې خويندې يوه شېبه له زړه نه وتي.
په شپاړسمه شپه مو د يوه ښايسته خوا پاکې بس ټيکټونه را واخيستل او حرکت مو را وکړ.
دوه ورځې نورې تيرې شوې د نسرين بياهم درک ونه لګيد.
جعفر بيا، بيا را يادوله چې څه دې وکړل، بې صبرانه د نسرين احوال ته په تمه وم.
په ښار او واټونه کې د چود اګسټ د ورځې چمتوالی روان ؤ، کلک امنيتي تدابير نيول شوې ؤ.
مازيګر ناوخته مي د نسرين پيغام تر لاس کړ.
ايمانه که وخت لرې نن شپه زموږ خواته راشه.
زړه مي ښه شو، تمه مي پيدا شوه چې ګوندې نسرين به يوه چاره کړې وي.
په مخامخ چوکی کې جعفر ناست ؤ، تلفون يې غوږ ته نيولی ؤ، شېبه وروسته يې خبرې خلاصې شوې
سوکه مي ورته وويل.
جعفره ما يو پيغام تر لاسه کړ، زه به نن ولاړ شم.
د جعفر په څېره کې خوښي څرګنده شوه.
ژر يې را غبرګه کړه، نو ولې ورته ګورې، حرکت وکړه.
ماښام ناوخته مي په موټر سايکل پينه واړوله او حرکت مي وکړ.
له ورسېدو سره سم مي د عادت له مخې د سپين ږيرې چاچا په هوټل بريک ونيو او يوه پياله دود پتې چاى مي را وغوښتل.
څو شېبې کېناستم، وروسته مي حرکت وکړ او د نسرين ليدو ته ورغلم.
په دروازه ور ننوتم، دا ځل په کورکې د پخوا په څېر شور نه ؤ، چوپه چوپتيا خوره وه، دوه درى ځلې مي غاړې تازه کړې څوک نشول ښکاره.
بيرته را ووتم په دوهم سراى کې د حجرې تر مخ کېناسم.
د حجرې څراغ بند ؤ، ماهم په تياره کې څو شېبې سکوت اختيار کړ.
په فکرونو کې ډوب تللی وم، څو شېبې وروسته مي د نسرين غږ واوريد.
ته راغلی يې؟
سترګې مي ور پورته کړې
په واړه وره کې نسرين ولاړه وه
ژر را ولاړ شوم
هو زه وختي راغلم، څو غږونه مي وکړل خو څوک نه شول ښکاره، خيرت خو به وي؟

هو خيرت دی.
دوئ ټول شادي حال ته تللي، د جانان ماما د زوی واده دی. احمد تر اوسه له دوکان څخه نه دی راغلی.
کاکا دوی نوی کلی ته تللي، هلته یې یوې مرکې ته ور غوښتي ؤ، یوازې زه او ماګله یو په کورکې پاتې یؤ، هغه هم ویده ده راځه زما کوټې ته به ولاړ شو.
نسرين تر مخ او زه تر شا د هغې ځانګړې کوټې ته ولاړو.
کېناستو، د مېز په سر تازه میوه، د شیدو چای ایښي ؤ.
نسرین مخامخ راته کېناسته
ایمانه نن شپه مې ښه وبلله چې راشي او خبرې وکړو.
وخت ډیر ووتل، حتمي به فکر او اندېښنه درسره پیدا شوې وي چې ولې دې پوښتنه نکړم.
د چایو ګیلاس مې په مېز کېښود.
هو اندېښنې راسره ډیرې وې، خو زه له ملګرو سره د لاهور په چکر تللی وم، هره شېبه مې ستا د احوال تمه درلوده.
نسرين خپلې خبرې ګړندی پیل کړې.
هو ایمانه زه ډیره ښښه غواړم، وخت یې ځکه ونیو چې زما ور تګ هلته ډیر ښه نه ؤ، ځکه چې دا کار اوس له احمده هم په پټه روان دی.
سترګې یې له اوښکو را ډکې شوې، د څو شېبو لپاره یې سکوت غوره کړ.
حیران، حیران یې ماته کتل، بیا یې سوکه وویل.
ایمانه د کار ډیر سخته دی، که چیرته خدای ج مکړه تاته پکې ستونزه جوړه شوه بیابه څه کړو.
په خوشکه مې وویل
ته هم لکه احمد وېاره شوې، چې دومره ډارېدلې بیابه دې دا کیسه هیڅ نه راته کوله.
د نسرين رنګ والوت
ترخه مسکا یې وکړه
نه داسې څه خبره نشته، له ماسره د خان کومه وېره نشته.
ایمانه ماته ته ډیر مهیم یې، ستا د کورنۍ په اړه فکر کوم، داچې له تاسره دا فکر پیدا شوی چې ګواکې زه په شا شوې یم هغسې نه ده.
ما ټول کارونه جوړ کړي، ته دې خپلې تیاریانې نیسه.
په زړه مې ویره او خوښي دواړه ګډې شوې، ژر مې خبره ور غبرګه کړه.
ته رښتیا وایې؟
څنګه دې دا کار جوړ کړ؟
نسرين سوړ اسویلی وکړ.
بیایې وویل
ایمانه مخکې له دې چې دوئ یاهم احمد راشي باید خبرې خلاصې کړو.
ومې ویل، ډیره به ښه شي، زه هم دا غواړم.
د نسرين په څېره کې مې د لومړي ځل لپاره غصه ولیده.
په خوشکه یې وویل
ته خو خود دا غواړې، خو یو څوک به تا غواړي.
بیا غلي شوه
حیران شوم
څوک ما غواړي؟
نسرين وویل
ستا مور
دوام یې ورکړ
ایمانه پینځه ورځې وروسته د چود اګست مراسم پیلېدونکي دي، په دې ورځ په ټول پاکستان کې جشن لکیږي، ټول ولس پکې برخه اخلي.

په دې ورځ ددې ښځو خاوندان او د کور ټول وکړې په کورکې نه وې، که چېرته له دې موقع ګټه وانخلو بیا نو تر بل چوداګستې پورې دا کار ناشونی دی، ما ټول پلان جوړ کړی، په همدې ورځ یوازې دومره وکړه چې ګاډۍ موټر کېمپ ته نیږدې د پکوړو والا له دوکان سره ودروه، نور نو ته خلاص یې، دوی زه تر ګاډۍ پورې در رسوم.
حیران شوم.
دا کار په دومره اسانی څنګه امکان لري؟
نسرین ترخه مسکا وکړه
ایمانه درته مې وویل چې نور ترینه خلاص یې.
خبرې مې اوږدې نکړې، په فکر کې ولاړم.
نسرین وویل
چیرته ورسېدې؟
ژر را بیدار شوم
ورته ومې کتل
له سترکو یې دوه غټې او ښکې په مخ روانې وې.
ومې ویل
نسرین ته ژاړې؟
ښه په ځیر یې زما سترګو ته وکتل
ایمانه مخکې له دې چې احمد راشي ته نور ولاړ شه.
بې له دې چې څه ووایم له کوټې را ووتم او په موټر سایکل مې پشه واړوله.
په ډېرو فکرونو کې ډوب د دفتر په لورې روان شوم، شپه ناوخته وه چې ورسېدم.
تر سهاره په ځای کې اړخ په اړخ کېدم، سترګې چې به مې پټې کړې بیرته به را غورځارشوم، سخت نا ارامه وم.
سهار ناوخته د جعفر په زنګ را ویښ شوم
چای مو یوځای سره وڅښل.
جعفر زما خولې ته په تمه ؤ چې ما کوم خبر راوړی.
بېګانی کیسه مې کټ مټ ورته وکړه، وروسته مې وویل
جعفره کیسه تر دې ځایه را ورسېده، اوس څنګه وکړو؟
جعفر له ډېر فکر وروسته لنډې خبرې وکړې
ایمانه نور فکر مکوه، تاسو نور بېغمه شئ، زه پوهېږم چې دا کار څنګه پای ته ورسوم، د چود اګستې په ورځ بیا خبرې کؤ، ته دې خپلو کارونو ته پام کوه او ځاره یې.
جفعر له دفتر څخه ووت زه یوازې پاتې شوم.
مازیګر ناوخته جعفر او څلور کسان په دفتر را ننوتل.
له جوړ پخیر وروسته یې را وویل
د هغې ځمکې اسناد را واخله هغه څو شپې مخکې چې مو واخیسته
حیران شوم
سوکه مې وویل
هغه ځمکه خو ډېره ګټوره وه، او بل تا ویل چې زه خپل ځان ته ځای پرې جوړوم؟
په خوشکه یې راته وکتل.
داسې راته وبرېښېدل لکه وایې چې خبرې مکوه.
اسناد مې له الماری څخه را ښکته کړل او جعفر ته مې ونیول.
په راغلو کسانویې ځمکه تر اخیستل شوې قیمت وړیا وپلورله.
خلک ووتل
زه حیران ناست وم، فکر مې وکړ چې پیسې به یې په کار شوې وې.
جعغر تلفون غوږ ته ونیو
وروسته یې مقابل لوري ته وویل
اکرم جانه هغه ګاډی، موټر چې زما خوښ شو هغه زما تر دفتره پورې راولئ، ستاسو حساب به دلته درکړم.

ساټ وروسته يو ښايسته موټر د دفتر تر مخ ودريد.
جعفر ور ولاړ شو، په موټر کې ناست کس يې د ننه را وستل، په دفتر کې يې د موټر د ارزښت  پيسې ورکړې.
هغه کس ووت
جعفر مخ را واړول
ايمانه د موټر چابي، کيلي در واخله، تر چوداګسټ پورې چکرونه پکې ووهه، نور په دفتر کې مه کېنه.
پاتې اته لکه روپۍ يې را واچولې
دا پيسې له ځان سره وساته، چکرونه پرې ووهه، په پاتې پيسو په وطن کې خپلې چارې مخکې يوسه، خدای ج خبر چې بيا څوک مړه وي او څوک ژوندي.
د جعفر ډېر اخلاص، ښه وخت او کلکې نايابې ملګرتيا مې په سترګو کې اوښکې راوستې.
تر چود اګسټ پورې داسې پارک دا سې ميله ځايونه نه ؤ چې موږ پکې چکرې ونه وهلې.
هغه د چود اګسټ شپه هم را ورسېده چې ما جعفر او نسرين يې د انتظار شېبې شمېرلې.
خدای ج شته په وجود مې ډار را ننوتی ؤ، شيطان کافر ډول، ډول فکرونه او انديښنې را پيدا کولې.
زه او جعفر ماښام يوځای د دوئ د کور حجرې ته ولاړو، څو شېبې وروسته يوه ډله ځوانان له رباب او منګې سره په حجره را ننوتل، له جوړ پخير وروسته يې له رباب او منګې سره بدرګه سندرې پيل کړې.
جعفر هره شېبه په ما پام کول، ويل به يې هيڅ انديښنه مکوه خوند واخله.
زما فکر او زړه د سهار لپاره بند ؤ.
شپه نيمايي ته ورسېده، راغلي ځوانان ووتل او خپلو کورونه ته ولاړل.
زه او جعفر يوازې پاتې شوه
ځان مې کلک نيولی ؤ
جعفر په ډېرې تسلی او ډاډ سره وويل
ايمانه داسې ويده شه لکه زه او ته چې سهار هيڅ کار نه لرو.
پنجابي زموږ ښځې له وطنه را تښتولې اوړموږه به يې بيرته نشو ترينه خلاصولی، نه دا هيڅ خبره نه ده، موږ تر دې سخته کارونه هم کړی شو
جعفر خپلې کوټې ته ولاړ
ما اودس تازه کړ، له څو رکعات نفلو وروسته مې خپل خدای ج ته ښې ډېرې اوښکې توئ کړې او مرسته مې ورڅخه وغوښته.
تر سهاره څو ساعتونه وخت پاتې ؤ، سر مې په بالښت کېښود ويده شوی وم.
منډې مې وهلې، له پښو مې دم ختلی ؤ، تر شا را رواني توري بلا لاسونه را پسې غورځول، په ډېرې سختی ترينه خلاصېدم، په يوه دېوال ختم او په بل پورته کېدم، هرځای چې به پټ شوم توره بلا به راپسې راتله.
شا او خوا خلک مې ليدل چې زما چيغې اوري خو غوږونه يې کاڼه اچولي ؤ.
بېړنی مرستې ته مې اړتيا درلوده چې يو څوک راشي او ما له دې تورې بلا وژغوري. په همدې وخت کې مې د ايمان، ايمان نارې تر غوږ شوې.
سترګې مې لوڅې شوې، جعفر د حجرې په وره کې ولاړ ؤ.
ژر په ځای کې را کېناستم، شکر مې و ايستل چې خوب ؤ
جعفر وويل
ولاړ شه ژر، ژر حمام وکړه چې ځو لخيره.
زه حمام ته ننوتم، له څه ځنډ وروسته را ووتم.
جعفر پتنوس په لاس کې د سهار ناشته راوړه.
زما تلفون د بالښت تر څنګ رڼا شو، ور ټيټ شوم، ومې کتل د نسرين پيغام راغلی ؤ
پکې ليکلي ؤ
ايمانه تاسو نن په منظره ځئ بايد وختي ولاړ شئ.
ژر مې جعفر ته وکتل، هغه په ګيلاسونو کې چای اچول
مسک شو
ته راځه کېنه، نن زما او ستا وروستی چای دی، بيا خدای خبر.
د جعفر رنګ تک شين اوښتی ؤ، شونډې يې وچې وې، ددې لپاره چې زه انديښمن نشم مسکا يې کوله.

د زړه په زور مې څو غړپه چای وڅښل.
جعفر راته وکتل
ښاااا ایمانه، نو نن لخیره وطن ته ځې.
څه مې ونه ویل
له حجرې را ووتو په نوې اخیستل شوې موټر کې کېناستو او حرکت مو وکړ، په خوله کې مې ټکی لاړه نه وه، ستونی مې وچ ؤ،
وجود مې مړې لړزې اخیستی ؤ.
جعفر په ډاډه زړه ډریوري کوله.
عمومي سرک ته را ووتو، د خلکو ګڼه ګونه وه، په هر لورې چې به مې کتل نو خلګ به مې په نویو جامو کې لیدل.
هرې خواته د پاک سر زمین سرودونه غږېدل.
په پیغام کې مې ولیکل
مور مېلې ته روان شوه
بیرته ژر د پیغام ځواب راغی
ډیره ښه ده، پخیر لاړ شئ.
له څو کیلو متره سفر وروسته ټاکلي ځای ته ورسېدو.
نسرین ته مې پیغام ولیکل
پکوړې خو نن نشته؟
څو شېبې وروسته پیغام راغی
ډېره ښه ده.
جعفر له موټره ښکته شو، له مخامخ هټۍ څخه یې څو دانې بیرغونه را واخیستل. یو غټ بیرغ یې د موټر په مخکینۍ برخه خپور
کړ، څو دانې یې په څنګونو او شاتنۍ برخه وټومبل.
زه دوه زړی، وارخطا د مخې په سیټ کې ناست وم.
ډلې ډلې، ښځینه، نارینه، ماشومان بیرغونه په لاس زموږ تر څنګ تېرېدل.
سترګې مې په را روان غټ پوځي کاروان ولګېدې.
ډول، ډول ټانګونه، موټرې او اوږدې بار وړونکې پوځي لاری رواني وې.
ټولو خلګو په زنده باد بدرګه کول.
د کاروان په وروستۍ برخه کې زاړه، نیمه تخریب شوې ټانګونه او تیارې بار وې
ناڅاپه مې سترګې په یوه زړه طیاره ولګېدې چې په یوه موټر کې بار وه، په وروستۍ برخه یې لیکلي ؤ.
ژوندی دې وي استقلال
حیران شوم
په پښتو لیکل؟
تر شا سمدلاسه بل موټر تیر شو، چاین داره ټانګ پکې بار ؤ، په لاندېنۍ برخه یې لیکلي ؤ.
قوماندانې امینه کابل
حوزه هشتم
داسې شوم لکه په زړه کې چې مې په چړو ووهي، هیڅ نه پوهېدم چې دا څه کیسه روانه ده.
پوځي کاروان د مخامخ پوځي کېمپ په لویه دروازه ننوت.
په فکرونو کې ډوب تللی وم، هیڅ په ځان نه پوهیدم.
وروسته مې وکتل چې یوه ډله ښځې او ماشومان زموږ د موټر تر څنګ، بیخې نیږدې روان ؤ
ناڅاپه شاتنی دروازه خلاصه شوه
ور ومې کتل، ګورم چې دوه میرمنې وارخطا، په لړزېدلي حالت موټر ته را وختې.
یو ډیر مظلوم او وارخطا غږ مې واورید
وروره هله ځئ.
جعفر په بیړه موټر ته را وخوت.
ددې په ځای چې عمومي سړک ته ووځي شاتنی کوڅې ته په شا ولاړ او په بله کوڅه روان شو.
زما له خولې غږ نه را وت، په خولو کې ډوب ناست وم، هیڅ نه پوهېدم چې موږ چیرته او په کومه روان یو.

چوپتیا خوره وه.
نه پوهېږم د څومره وخت لپاره به چپ پاتې شوي يو.
ناڅاپه مې سترګې په دوو تکو تورو شين څټو پوليسو ولګېدې چې مخامخ ولاړ وو.
ژر په ځای کې کېناستم، په يوه لوحه ليکل شوې وو.
بليلې کيشتې.
جفعر وويل
ايمانه کرار دې په ځای کېنه، څه مسئله نشته.
چيک پاينټ ته په ولاړو موټرو پسې دريم موټر زموږ وو.
موټرو حرکت وکړ، موږ ور روان شوه.
له خولې مې ووتل
دلاور
داخو هماغه دلاور دی چې دفتر ته راغلی وو.
جفعر وويل
هو هغه دلته نوکري لري
جعفر شيشه ټيټه کړه
د ولاړ پوليس په توره خوله کې په پان ککړ سره بخونده غاښونه ښکاره شول.
پوليس مخکې راغی، سترګې يې شاته په مېرمنو ولګېدې، بيرته شاته ولاړ
اووو معذرت غواړم جعفر بايې، سترې مشئ، چيرته روان يې يار.
جعفر د پوښتنې لپاره لاس ور اوږد کړ
جوړ پخير، دلاور بايي.
روان يو پښين، پښين ته.
پوليس مسک شو
لاس يې په سينه کېښود
پخير لاړ شئ
ماته ادړ وکړه، زه څه کولی شم.
جفعر وويل
شکريه
حرکت مو وکړ
له يوڅه سفر وروسته مې مخ د شا سيټ ته ور واړول.
يوې د بلې په غاړه کې کلک لاسونه ور اچولي وو، سر يې په اوږه ور ايښی و، د هغې بلې بيا له پټو سترګو ليکه اوښکې په مخ را روانې وې.
بيرته مې مخ را واړول.
له اوږدې چوپتيا وروسته مې بيا مخ ور واړول.
له اوښکو ډکې سترګې يې راته ونيوې
خوله يې خلاصه کړه
اې وروره خدای ج دې د عثمان غني له دنيا درکړي
خدای ج دې تا لکه ابرهيم خليل الله په سره اور کې وساتې.
غريو واخيسته، نور يې غږ له خوله نه راوتل، د سر په اشاره يې پوهولم چې څومره خوشاله او ښه احساس کوي.
دا حالت چې ما وليد، د وجود لړزه مې کراره شوه، له غروره ډک احساس مې وکړ، کوم ډار چې مې درلود بيخي ورک شو.
جعفر د سړک په سر يوه ښکلې خوا پاکې هټۍ ته موټر ګوښه کړ. ور ښکته شو، څو بوتله سړې اوبه او جوسان يې را واخيستل ماته يې راکړل او سملاسي له عمومي سړک ښکته شو
اوبه او جوسان مې شاته سيټ ته ور واړول.
کشرۍ خور يې هماغسې کلک لاسونه د مشرې خور تر غاړه ور تاو کړي وو.
جعفر په داسې لارو او څوکو کې خپلې موټرانی ته دوام ورکړی وو چې ټول کلي او فصلونه په نظر را تلل.

له یو ساعت سفر وروسته ناڅاپه په یوه ښار ور ګډ شوه
ژر مي وپوښتل
جعفره دا کوم ځای دی؟
جعفر سوکه وویل
دا پښین دی
تلفون یي را و ایستل
چیرته یې؟
ښه سمه ده
موږ را رسیدلي یو
د ښار په منځ کي په یوه غټه کوڅه وګرځید
لیږ مخکي د یو غټي دروازي تر مخ له یوه سپین موټر سره حاجی عالم ولاړ ؤ
ومي ویل
حاجی عالم؟
جعفر وویل
همدا یي کور دی
جعفر موټر ودرول
موږ دواړه له موټره ور ښکته شوه، له حاجی عالم سره مو پوښتنه وکړه، مخکي تر دې چي جوړ پخیر وکړو حاجی عالم جعفر ته وویل.
موټر تیار اماده ده، دوئ را ښکته کړي او حرکت وکړئ.
جعفر ماته مخ را واړول
زه د خپل موټر خواته ور روان شوم
شاتنی دروازه مي سوکه خلاصه کړه
په خوشالی سره مي ورته وویل
خوري راځئ هغه بل موټر ته
کشرئ خور یي هماغسي تر غاړه کلک لاسونه ور تاو کړي ؤ
سوکه یي د هغي لاس کش کړ
صدف اه صدف
صدف لکه مړی داسي خاموشه تللي وه
بیایي په لیږ لوړ غږ ورته وویل
صدف پورته شه، ځو هغه بل موټر ته
صدف سر را پورته کړ
ښی لاس یي سترګو ته کلک ونیو
مشره تر مخ صدف تر شا را ښکته شوي
ما ژر د هغه بل موټر دروازه ورته خلاصه کړه
صدف لاهم سترګو ته لاس نیولی ؤ، په پټو سترګو له مشري خور سره تر موټره راغله او ور وختي.
زه بیرته د جعفر خواته ورغلم
حاجی عالم وویل
جعفر جانه حرکت وکړئ، هغه کس به له مانده اخوا د خپل کور تر مخ درته ولاړ وي.
ژر موټر ته پورته شؤ
جعفر حرکت وکړ
له ښاره را ووتو، په یوه کوچني پاخه سړک مو سفر ته دوام ورکړ
تلفون مي له جیب را وایستل،د نسرین پیغام راغلی ؤ ارامه مېلي وکړئ، نن ورځ ټول خلګ په مېلو بوخت دي، تمه لرم چي ارام به یاست.
پیغام مي ژر جعفر ته وویل

جعفر مسک شو
د شا له سيټه غږ راغی
تر ورونو مې قربان کړې
تر غيرتي او ننګياليو زلمو مو صدقه کړې
په کراره درځئ، هغه وحشيان په ميلو او وظيفو وتلي، ډاډه  يم چې شپې ته دې هم کورته ولاړ شي.
جعفر وويل
خورې اندېښنه مکوه، موږ ټول تباه يو، وطن مو لوټه لوټه ده، غرور او حيثيت مو که هر څومره خاورې ده خو بياهم چې ژوندي يو له خپلې خور او مور پوښتنه به کړو.
کرارې کينئ، نور مو هيڅوک مخې ته نشي درېدی، يابه وطن ته رسيږئ او يابه موږ هم درسره مرو.
د ښځې له خوښئ خندا او ژړا سره ګډه شوه، خوله يې پورته نيولې وه او خدای ج ته يې ګيلې کولې.
له څه سفر وروسته نه يم خبر شوی چې څنګه مې سترګې په خوب پټې شوې وې.
ناڅاپه مې دا خبرې تر غوږ شوې
وروره د صدف زړه يې لا هم نه مني چې موږ دې وطن ته ورسيږؤ، يو سات کيږي تسلي ورکوم خو د صدف زړه ځای ته نه راځي.
لېږ را په هوښ شوم، ګورم چې جعفر له دوئ سره خوږه ګپه شروع کړې.
شاو او خوا مې وکتل تياره وه، موټرونو څراغونه لګولې ؤ، ژر هسک را کېناستم
جعفر وويل
ويده شه ياره د چا په کيسه کې به لا نه يې
ښه احساس مې وکړ
ومې پوښتل
دا کوم ځای دی
جعفر وويل
دا چمن دی
شاته مې وکتل صدف سمه سهي ناسته وه، بيرته مې مخ را واړول.
جعفر وويل
نن شپه بايد واوړئ
ژر مې وويل
دا څنګه امکان لري
جعفر وويل
دا داسې امکان لري لکه دا اوس چې روان يې.
د اوبو بوتل مې را واخيست
په يوه سا مې وڅښل
جعفر وويل
وږی خو نه يې
ومې ويل
نه
جعفر له عمومي سړک څخه په چپ لاس وګرځيد، لږ مخکې يوه څنګ ته د يوه کوچني موټر تر څنګ يو کس ولاړ ؤ، په سر يې څادر پيچلی ؤ
څنګ ته يې ودريدو
له ولاړ کس سره موپوښتنه وکړه
جعفر ورته وويل
حاجی عالم به زنګ درته وهلی وي
ولاړ کس وويل

هو هغه کیسه راسره کړې، په مشکل يې خبر کړی یم چې دوئ ته په وطن کې غبرګې جنازې په تمه دي، ما خبره له پولیس واله ؤ سره کړې، زه به دوئ له باډره چپ په یوه کلي کې واړوم، خو د شپې لخوا پولیس واله ډیرې پیسې غواړي.
جعفر ژر خبره ور غبرګه کړه
د پیسو خبرې مکوه، چې هر څو غواړي کار ورسره خلاص کړه.
سمه ده نو زناني را شېوه کړه چې حرکت وکړو.
زه ورغلم دوئ مې را ښکته کړل او د لغړي په موټر کې مې کېنولې.
جعفر غاړه راکړه
ښه شېبه يې په غیږ کې ونیوم
په مخ يې ښکل کړم
زما له سترګو بې اختیاره اوښکې ولاړې
جعفر وویل
ایمانه ژړا له غیرتي خلګو سره بده ښکاري
حرکت مو وکړ
په کلیو او کوڅو کې سر شوه، په یوه وتلو او په بله ننوتلو.
پولیس پوسته هیڅ شي سره مخ نه شوه، تر پایه مو څوک مخې ته ونه دریدل.
ساعت وروسته يې د وېش په بازار کې ښکته کړو.
یوې او بلې خواته مې وکتل.
دا فکر مې کول چې اوس څنګه وکړو
پاکستاني سیمکارت لاهم کار کول، ژر مې جعفر ته زنګ ووهل چې مونږ را ورسېدو.
تلفون مې جېب ته لا نه ؤ اچولی چې زنګ راغی
ځواب مې ورکړ
سلام علیکم
وعلیکم سلام
وروره ته ایمان يې
هو زه ایمان یم
ښه ډیره ښه ده، زه د جعفر ملګری یم، زما نوم نعمت دی.
جعفر زنګ راته وهلی ؤ او ستا شمیره يې راکړه، اوس چیرته يې چې زه درشم؟
تر څو چې مې خبره کوله ژر يې وویل
دا د هوټل مخکې چې دوه زناني درسره دي دغه ته نه يې؟
یوې او بلې خواته مې وکتل
هو دغه زه یم
سمه ده زه پاس پر هوټل ناست یم، ژر به در شېوه سم.
د صدف ژړا او خندا سره ګډه وه
را نیږدې شوه
وروره دا کوم ځای دی
سوکه مې وویل
دا وېش دی، له دې وروسته ځو کندهار ته، بیابه له هغه وروسته کابل ته روانیږو
ناڅاپه يې په زوره چیغه تر خوله ووته
یا خدایه شکر
نیږدې ناست او روانو خلګو را وکتل
داسې ښکارېده لکه نور چې هم څه وایي
مشره خور يې ژر نیږدې راغله
وارخطا يې وویل
صدف ولې مو رسوا کوې

صدف ځای په ځای کېناسته.
نعمت غږ را وکړ
ایمانه وروره
ژر مي مخ ور واړول
ها وروره ستړی مشي
نعمت غېږ راکړه
وروسته یي وویل
زما موټر لیږ مخکي ولاړ دی، تاسو په تمه شئ زه یي راولم
نعمت مخکي ولاړ، موږ په تمه پاتي شوه.
د صدف حالت راته ښه نه ښکارېده، په ستوني کي نیښتي سلګی یي ما اورېدي.
په وېره کي ولاړم، د نعمت ژر راتلو ته مي سترګي نیولي وې، څو دقیقي وروسته راغی، موټر یي زموږ تر مخ ودرول.
ژر موټر ته ور پورته شوه
نعمت په ورین تندي پوښتنه را باندي وکړه
ایمانه وروره پخیر راغلئ؟
په لاره کي خو څه مشکل نه ؤ
ورته ومي ویل
خیر دي نصیب شه
نعمت زیاته کړه
څه شی څه خورئ او څه څښئ
مننه مي وکړه چي د اوس لپاره هیڅ هم نه خورو
نعمت موټر روان کړ
دواړه خویندي د شا په سیټ کي غلي، غلي غږېدي، له ډیري خوشالی به یوه نیمه خبره ورڅخه لوړه شوه.
یو خوږ احساس مي کول
وجدانن ډیر آرام وم
په چوکی کي دومره غټ ناست وم لکه ټول جهان چي زما په نوم وي.
نعمت ډیر خوږ ځوان ؤ، تر کندهاره یي دومره ښه مجلس راته وکړ چي هیڅ په لاره نه یم پوهېدلی.
په کیسو، کیسو د کندهار په لوی ښار ور ننوتو..
په ښارکي تاو را تاو شو، بیا په یوه غټه کوڅه ننوت.
لیږ مخکي د یوې غټي دروازې تر مخ ودرید
ناڅاپه مي وویل
نعمته؟
وې خندل
موږ او تاسو پښتنانه یو
دا زموږ کور دی، شکر غټ ځای دی کور مو له زنانو ډک دی، د خویندو به ډیر ساټ ورسره تېر شي.
زه او ته به په مهمانخانه کي ګپې، کیسي وکړو.
شپه ناوخته وه.
نعمت د موټر تر نن ایستلو مخکي موږ کورته د ننه کړو.
زه د میلمنو ځانګړې کوټي ته ننوتم، صدف او خور یي د ښځو خواته ورغلي.
په کوټه کي د دستار خان په سر ډول، ډول تیار خواړه ایښي وه، یوازې مو لاسونه و مینځل.
له ډوډۍ وروسته نعمت ډیر ناویلي راته وکړې، وروسته یي د خوب راته وویل چي ویده شه.
صبا که ژوند ؤ د ارغنداو او بابا صاحب منظرې در کوم.
له ډیر ټینکار وروسته مي پرې ومنله چي موږ نشو تم کېدای اجازه راکړه.
نعمت وویل

پاتي کيږئ خو هسي نه، نو داسي به وکړو چي زما ملګری د کابل په لین موټر لري، ښه نوې کرولا يې په دې شپو کي واخیسته هغه به دروازې ته راشي او سپاره به مو کړي.
مننه مي ورڅخه وکړه
نعمت له کوټي ووت
تر سهاره کم وخت پاتي ؤ.
زه له ډيري ستړيا ویده شوم.
څه وخت وروسته مي د نعمت په غږ سترګي را رڼي شوې
ايمانه وروره موټر په دروازه کي تيار ولاړ دی
ژر په ځای کي را کیناسم، اودس مي وکړ او ور ووتم.
تر څو چي تر موتره ورسېدم صدف او خور يې هم پسي را ووتي.
نعمت ته مي کلکه غېږه ورکړه او حرکت مو وکړ.
صدف ته مي مخ ور واړول
ستاسو شپه پخير وه
سوکه يې وويل
هو ډېر قدرمن خلګ ؤ، ډيره ښه شپه يې راکړه
د ژوند وخت او فرصتونو په فکر کي ولاړم، ډيره راته عجيبه دا وه چي په دومره غټه کيسه کي زه ددې دو خويندو نومونه لا ما زده نکړل، د صدف نوم مي د هغې له مشرې خو په پشين کي واورېدل
انساني اړیکو، انساني ارزښتونو، او د انسانانو ترمنځ راکړې ورکړې، رحم، شفقت او ظلم زياتي بيخي حيران کړم
په ټوله لار کي مورږ ته د خبرو فرصت نه ؤ، ډيرو خبرو ته اړتيا وه چي کړې مو وای خو چانس نه ؤ، يوازې مو يو او بل په احساساتو سره درک کول.
يوه اوږده چوپتيا له کندهاره تر کابل راسره مله روانه وه.
دواړو هڅه کوله چي خبرې وکړو خو هيڅ نه کېدل.
موټروان يو ځای بل ځای د خپل سګريټي، سګرېټ لپاره درېدل، په يوه ګوښه کي به يې خپله نشه وکړه، خاموش انسان ؤ، هيڅ خبرې يې نه کولې.
غرمه ډوډۍ مو مقر ته را ورسوله
ماښام ناوخته د کابل ارغندۍ دروازې ته ور ورسېدلو.
مخ مي ور واړول
خورې دا ارغندۍ ده، مورږ او تاسو کابل ته ننوزو.
دوئ لکه د پل چرخي زندانيان په لمر خاته او لمر لويده نه پوهیدې
ګنګس وې، هرڅه ورته دومره نابلده ؤ چي پوښتنه يې مکړه.
څه وخت وروسته مي بيا ورته وويل
دا کمپني ده
ناڅاپه يې داسي چيغې را پورته شوې لکه د مړه ورور جنازې ته چي رواني وې.
موټروان حيران پاتي شو
ما ژر ور غبرګه کړه
اوستاذه دا د ډير وخت مساپرې دي ښښنه غواړم.
ژر ژر مي دوئ ته تسلي ورکوله، ايله کراري شوې.
اوستاذ ته مي وويل
مورږ هم دلته ښکته کيږو
موټر يې څنګ ته ودرول
مورږ را ښکته شوه
پيسي مي له جېب څخه ورته را وايستي
موټروان وويل
پيسي نعمت راکړې

وروسته روان شو
موږ مخامخ سالنګ هوټل ته ور پورته شوه
هوټلي د ښځينه ؤ لپاره ځانګړې ځای ته ورسولو.
يوه کوټه يې راکړه
د ډوډۍ مو ورته وويل
هوټلي ډوډۍ راوړه
وروسته مې مخ د صدف مشرې خور ته ور واړول
ستا نوم زما نه دی زده؟
له اوښکو ډکې سترګې يې را واړولې
حيران يې راته وکتل
ولې تاته نسرين زما نوم نه ؤ در ښولی
سر مې ورته وښورول
وې خندل
ستا بلا واخلم ورورہ
زما ټول عمر دې ستا شي
موږ له عزت او نامه سره يو چا له خارو نکړو را پورته
تا څنګه داسي بې نومه او بې نښانه له تورو خاور وڅنډلو.
بيا غريو واخيسته، ښې ډيرې ګيلې يې وکړې
سوکه يې وويل
زما نوم شبنم ده
خو اوس موږ چيرته يو، څه به کړو؟ ته مو ډير راسره په تکليف کړې، تا ډيره قرباني راکړه، ډير غټ خطر دې په ځان ومنل.
ژر، ژر مې تسلي ورکوله.
صدف وويل
درځئ زموږ کور پيدا کړو،هلئ درځئ
په ځای کې ودريده، لکه د لېونو داسي کارونه يې کول.
وارخطا شوم
صدف کينه
دلته خلګ دي
صدف ژر، ژر ويل
د موږ غږ مې غوږونو ته راځي، د ورونو غږ مې اورم.
شبنم په زور کېنوله
ژر مې وويل
ځو او ستاسو کور پيدا کو
تاسو کېنئ زه د هوټلي حساب ورکوم او ټاکسي را ولم.
ژر را ووتم
هوټلي ته مې حساب ورکړ
له هوټله را ووتم، په چوک دوه ټکسياني ولاړې وې، ژر ورغلم.
اوستاذه موږ تر خواجه مسافره ځو
سمه ده ځم درسره
ښه نو راځه د هغه هوټل مخې ته
زه ژر په پښو ترينه روان شوم
کوټې ته ورغلم صدف او شبنم مې را رواني کړې او را ښکته شوه.
په موټر کې کېناستو
ناڅاپه مې په زړه کې را تيره شوه

کور به یې څنګه پیدا کړ
شبنم ته مې مخ ور واړول
هلته ته خپل کور پیدا کوی شې
حیران یې راته وکتل
هو زموږ کور د غونډۍ په سر ؤ نه رانه ورکیږي
په زړه کې را تیره شوه
یو ناڅاپه که د دوئ کورنۍ دا نجوني ووینې ډیر بد حالت به وي.
ژر مې وویل
خوښه مو نه ده چې ستاسو د بابا کورته لاړ شو او بیا صبا په کراره راشو
شبنم ځیرکه او هوښیاره وه
ژر یې خبره راسره ومنله
موټروان ته مې وویل
اوستاذه موږ شمتلې ته ورسوه
سمه ده رسوم مو، خو تر هغه ځایه پینځه شوه روپۍ غواړم، ځکه هلته په هسکه ور ختل ډیر ګران کار دی، لاره یې خامه ده
ژر مې وویل
په کیسه کې مه کېږه درځه
له خواجه مسافره تیر او په قرغه ور پورته شوه.
مخکې ربنتیا هم لاره ډیره خرابه وه، ډیر ناوخته شمتلې ته ورسېدو.
دا وخت نو په کلي کې بیخې چوپتیا وه، هیڅوک نه تر سترګو کېدل.
موټروان وویل
چیرته مو ښکته کړم
مخ مې شبنم ته ور واړول
هغې حیران کتل
هرڅه ورته نابلده ښکارېدل
غوره مې وګڼله چې ښکته شو
موټروان ته مې وویل
ددې غټې دروازې تر مخ ودریږه
موږ را ښکته شوه
موټر بیرته روان شو
په ډیرو کمو کورونو کې رڼا ښکارېده.
حیران او وارخطا ولاړ وو
شبنم ته مې وویل
تاته کوم ځای شناخته نه ښکاري
نه وروره یو ځای نه پیژنم
لکه لیونی په مخامخ دروازه مې ور منډه کړه، لغتې مې ورته ونیوې.
څو دقیقې وروسته یو غږ راغی
کیست؟
ژر مې وویل
وروره موږ مساپر یو، د حاجي سید عالم کور مو په کار دی.
چوپتیا خوره شوه
د پښو څرپې سوکه سوکه د دروازې خواته را لنډ شو
بیا یې وویل
کدام سید عالم
شبنم ته مې ور غږ کړ

شبنم راغله
وروره ورته ووایه چې هغه د کلي ملک چې ؤ
خوله مي دروازې ته ور نیږدې کړه
هغه د کلي ملک چې ؤ
کړپ دروازه یې را خلاصه کړه
په عمر پوخ سړی را ووت.
څوک یاست، او له کومه ځایه راغلي یاست؟
حیران شوم
هغه زموږ خپلوان دی
شبنم مخکې راغله
هغه زما نیکه دی
زه یې لمسی یم
په عمر پوخ سړي ووېل
ته یې د کوم ځای لمسی یې چې کور یې نه دی درته مالوم؟
شبنم ژړغوني شوه
زه د زلیخا لور یم
سړي په لوړ غږ ووېل
هغه د زلیخا ورکه لور یې
شبنم چیغه کړه
هوووو
په عمر پوخ سړي ژر دروازه راپورې کړه
په بیړه یې ووېل
راځئ په ما پسې
سړی تر مخ او موږ تر شا پسې روان شوه.
څو کوڅې وړاندې یوې کوڅې ته ور وکرځید
یوې دروازې ته ودرید
سوکه یې ووېل
دغه یې کور دی
د دروازې په سر د جوړې کوټې څراغ بل ؤ، د تاوده مجلس غږ د باندې راوت
سړي سوکه دروازه وټکوله
شیبه وروسته پاس کړکی را خلاصه شوه
یوه ځوان لاندې را وکتل
څوک یې
مه لال محمد هستم بچیم دروازه را باز کن
ځوان کړکی را پورې کړه
د پښور څپرپی تر دروازې راغی
غننګ دروازه خلاصه شوه.
ځوان را ووت
سړی ته یې لاس ونیو
موږ شاته ولاړ ؤ
خیرت بود کاکا
ها خیرت بود بچیم
که است د خانه؟
مهمان دارین

کس نیست کاکا، خواهرا و ماما خیل ها آمده
سړي سوکه وویل
زلیخا امده؟
ځوان وویل
ها آمده
د شبنم له خولې داسې کریږه ووته چې ازانګه یې وکړه
ځوان وار خطا شو
چې ګپ است
شبنم له مخې او خور یې تر شا په دروازه منډه ور واخیسته ننوتې.
ځوان چیغه کړه
کاکا لال محمد این چی قیصه اس
سړی وویل
این دخترهای زلیخا است
ځوان چیغه کړه او  په دروازه ننوت
زه او لال محمد تر شا پسې ور ننوتو
د سرای منځ رڼا ؤ
ښځو او ماشومانو چیغې وهلې
یو د بل په غاړه کې ور پرتې وې
چا پیژندلې وې او چا لا چیغې وهلې چې څه کیسه ده
چا بیا چیغې وهلې چې د زړه ورکې توتې مو پیدا شوې
له پاس کوټې ډله سپین ږیرې او ځوانان را ښکته شول.
زه د دروازې تر شا په تیاره کې ولاړ وم.
د ښځو چیغو ټول کلی په سر اخیستی ؤ
زما اوښکې نه تم کېدې
د هیچا را پام نه ؤ
یوازې د نامرده بیلتون نامردي راته سترګو ته دریده.
د هغې مور چیغې مې اوریدې چې په کلونو یې د خپلو ژوندیو او ورکو لورانو بیلتون لیدلی ؤ
نور مې نشوی زغملی، سخت ستړی او ناتوانه وم.
له دروازې را ووتم او د کلي په کوڅو سر شوم.
د ښځو او ماشومانو چیغې مې تر ډیره اورېدې.
هیڅ په ځان نه یم پوهېدم چې چیرته او څنګه روان یم.
شپه مې ټوله تر پښو تیره کړه
سهار ناوخته سیمه راته دومره اشنا ښکاریده، داسې فکر مې کول چې دا چهاراهي قمبر ده.

پای

د نورو ښایسته ناولونه او کتابونه لپاره زموږ ټلګرام چینل تعقیب کړي.

مینه او درنښت.!